**مطبوعاتي اعلاميه**

**د حزب التحرير وېب پاڼې د مطبوعاتي پلټ فارم پرانېسته**

**www.htmedia.info**

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر خوښ دی چې په نوې او اپډېټ بڼه د خپل مطبوعاتي پلټ فارم د بیا پرانیستې اعلان کوي.

په دې پلټ فارم کې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د حزب التحرير له لوري تولید شوي ټولې بصري منځپانګې شاملې دي؛ له دې سره مخ پر غني کېدو ارشيف جوړېږي چې په دوامداره توګه به نور نوي فایلونه اپډېټ کېږي.

د حزب التحرير مطبوعاتي پلټ فارم په لاندې اصلي کټګوريو کې بېلابېلې منځپانګې وړاندې کوي:

١. د حزب التحرير د امير برخه

٢. د مرکزي مطبوعاتي دفتر برخه

٣. د ولايتونو او سيمو برخه

۴. له بيت المقدس څخه د مرستې د غږ برخه

۵. د امت د منبر برخه

۶. د اقتباسونو برخه

٧. د کنفرانسونو او ځانګړو مراسمو په مناسبت ناستو برخه

مرکزي مطبوعاتي دفتر د ټولې نړۍ مسلمانانو ته دا پلټ فارم وړاندې کوي چې د نړۍ په کچه د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسيس لپاره د دعوت په لار کې کېدونکې هلې ځلې وڅاري.

مرکزي مطبوعاتي دفتر همداراز پر ټولو هغو مخلصينو چې د رسنيو په صنعت کې بوخت دي، غږ کوي چې دغې مطبوعاتي اعلاميې ته د خلکو د پام را اړولو په برخه کې ونډه واخلي؛ ځکه چې دا مشخصاً د خلافت دولت د بيا تاسيس مسله ده؛ هغه مسله چې بايد په عامه اذهانو او خصوصي کلتور کې بيا را ژوندۍ شي؛ په دې توګه به دوی د امت په ډېره مهمه او برخليک ټاکونکې موضوع کې ښه همکاري وکړي. موږ له السميع، القريب او المجيب الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ او تاسو د هغو کسانو له ډلې وګرځوي چې د اسلام ساتنه او د پلي کېدو لپاره يې هلې ځلې کوي.

**انجنير صلاح الدين عضاضه**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د جمادی الاول ۱۵مه**

**۲۰۲۲م کال، د ډسمبر ۹مه**

**د صدور ګڼه: ۲۱/ ۱۴۴۴**